# لنډې پښتو کيسې

راټولونکی: عبدالعلي رسول‌زاده

# د عنوانونو فهرست


| شماره | عنوان | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | تر پیل له مخه خبري | الف |
| ۲ | سره زر او سپین زر | ۱ |
| ۳ | حریص محروم دئ | ۱ |
| ۴ | لېوه او زانې | ۲ |
| ۵ | غله او چرګ | ۳ |
| ۶ | دا وږش دي له چا نه زد کی | ۴ |
| ۷ | زمری او موږک | ۶ |
| ۸ | د کیدړي کواله (قباله) | ۷ |
| ۹ | ګیدړه او لېوه | ۸ |
| ۱۰ | بلبل او باز | ۹ |
| ۱۱ | خر او سپی | ۱۰ |
| ۱۲ | توتي | ۱۱ |
| ۱۳ | لېوه د پسه په جامه کي | ۱۳ |
| ۱۴ | د زمري قانون | ۱۴ |
| ۱۵ | موږکان او پیشي | ۱۶ |
| ۱۶ | د وني شاهدي | ۱۸ |
| ۱۷ | خرس او زمری | ۲۰ |
| ۱۸ | زمری او غویی | ۲۱ |
| ۱۹ | د چرګ هوښیاري | ۲۳ |

| | | |
|---|---|---|
| ۲۰ | توره موچۍ او چر چرکه | ۲۴ |
| ۲۱ | لېوه او سپی | ۲۶ |
| ۲۲ | د انسان کمال | ۲۸ |
| ۲۳ | مېږ او لېوه | ۳۱ |
| ۲۴ | سپی او کوټی | ۳۳ |
| ۲۵ | د دروغو دعوه | ۳۴ |
| ۲۶ | لېوه او پسه | ۳۶ |
| ۲۷ | ګیدړه او بزه (وزه) | ۳۷ |
| ۲۸ | زوړ سپی | ۳۹ |
| ۲۹ | نوکر او آس | ۴۰ |
| ۳۰ | وزر ماتې مرغۍ | ۴۲ |
| ۳۱ | برابر وېش | ۴۴ |
| ۳۲ | ګیدړه او بڼ | ۴۶ |
| ۳۳ | ګیدړه او چرګ | ۴۷ |
| ۳۴ | د سپي وفا | ۴۸ |
| ۳۵ | ګیدړي او سوی | ۴۹ |
| ۳۶ | ترکاڼ او بیزو | ۵۰ |
| ۳۷ | د زردالوو ټوکرۍ | ۵۱ |
| ۳۸ | خولۍ خرڅوونکی | ۵۳ |
| ۳۹ | چرګ او شاهین | ۵۴ |
| ۴۰ | آس او خر | ۵۵ |

# تر پیل له مخه

کوچنیانو ته د ژبي د ښې زدکړې لپاره د اړونده ژبي کیسې ډېري ګټمني دي. کوچنیان د کیسو له اورېدلو سره زیاته مینه لري. کله چې کوچنیان لوستل زده کې بیا نو د دغه لپاره چې د لوستلو ښه تمرین و کړي باید د لنډو کیسو د لوستلو لپاره د کیسو کتابو ته لاس رسی و لري.

په پر مختللو هیوادو کې ماشومانو ته په وړکتونونو، ښوونځیو او کورونو کې د کیسو لوستل ډېر رواج لري. کیسې نه یوائې د ژبي په ښه پر مختګ کې مرسته کوي بلکي تربیوي ارزش ئې هم باید له یاده و نه ایستل سي.

په وړکتونو او ښوونځیو کې کله کله کارکوونکي او ښوونکي کوچنیانو ته د کیسو د لوستلو لپاره یو خاص هدف غوره کوي او د هغه هدف له مخې ئې ور ته لولي.

په کورو کې ماشومانو ته میندي او پلرونه د کوچنیانو د بیدولو په وخت کې کیسې لولي او یا ئې له یاده ور ته وایي.

له ښه مرغه نن ورځ د تکنالوژي د پر مختګ په نتيجه کي له زيات شمېر کيسو څخه فلمونه جوړ سوي دي. په هر حال کوچنيانو ته د کيسې لوستل اړين دي.

کېدای سي چي د کوچنيانو د ښې روزني په سبب د کيسې تر لوستلو وروسته د کيسې عملي بڼه په ټولنه کي د مثالو په توګه ور ته روښانه کي.


عبدالعلي رسولزاده

alirasulzada@hotmail.com

0046709384755

www.pashto.se

# سره زر او سپین زر

یو سړی بیده (ویده) وو او خوب یې لیدی چې یوه صراف ته یې حواله ور وړې ده. صراف غوښتل چې سپین زر ور کړي مګر دی سره زر غواړي. پدې حال کې له خوبه را ویښ سو. چې و یې کتل نه سره زر سته او نه سپین زر، ژر یې سترګې پټې کړلې لاسونه یې ور و غزول او و یې ویل:

" هغه سپین زر را کړه قبول مې دي".

# حریص محروم دئ

یوه ورځ یوه سپي یوه ټوټه غوښه په خوله کې نیولې وه او د رود پر غاړه رهي وو. نا څاپه یې خپل ځان په اوبو کې و لید، ګومان یې و کړ چې په سیند کې بل سپی دئ او غوښه یې په خوله کې نیولې ده. نو د دې له پاره چې د هغه سپي څخه هغه غوښه واخلي، خوله یې خلاصه کړه. د خولې په خلاصېدو سره یې خپله غوښه له خولې څخه ولوېده او کبانو (ماهیانو) وخوړه.

سپی له دې پیښې څخه ډېر خواشینی سو او له ځان سره یې و ویل:

"هغه څوک چې پر نورو باندې د تیري خیال لري او زیات حریص وي دا به یې پای وي چې له خپلې خولې څخه به یې خواړه لویږي".

# لېوه او زاڼی

یوه ورځ د یوه لېوه په ستوني کښې هډوکی بند سوی وو. هر څومره یې چې د ټوخې له لارې ستونی پاک کړ، هډوکی یې له ستوني نه را و نه‌ووت. ډېر په عذاب شو، نو زاڼې ته ورغی او ور ته و یې ویل:

" هیله کوم چې په مشوکه سره دې زما د ستوني څخه هډوکی را و باسې او کله چې دې دا کار و کړ، زه حاضر یم چې زیاته اجوره در کړم".

زاڼي ژر خپل سر د لېوه په خوله ور ننه ايست او د خپلي اوږدې مشوکي په واسطه يې هډوکی د لېوه له ستوني څخه را و ايست.
او لېوه ته يې وويل:

"ملګريه! اوس نو د خپلي وعدې سره سم اجوره راکړه".

لېوه ور ته و ويل:

" ته لا خوشاله نه يې چي سر دي زما په خوله ننه‌ايست او بيرته دي جوړ او تيار را و ايست"؟

ته څرنګه اجوره غواړې، حال دا چي ته بايد ما ته اجوره را کړې او را څخه خوشاله و اوسې چي ستا سر مي و نه خوړئ".

# غله او چرګ

ځو تنه غله د يوه غريب سړي کور ته ننوتل، خو له يوه چرګ نه پرته يې نور هيڅ شی پکښې پيدا نه کړ. چرګ يې له ځانه سره واخيست. کله چي غله خپل کور ته و رسېدل، نو و يې غوښتل چي چرګ حلال کړي. چرګ په ډېره عاجزي غلو ته و ويل:

"ما پرېږدی ، مه مي حلالوئ. زه د حلالولو وړ نه يم ځکه هر وخت له نيمي شپې وروسته په اذانو پيل کوم او تر سبا پوري دومره نارې سورې وهم چې د ګهيځ (سهار) د لمانځه له پاره ويښ شئ".

غلو په جواب کښې ور ته و ويل:

"چپ سه ، ډېر مه غږېږه (ږغېږه) او زيات منطق مه وايه ، پخوا که ستا حلالول پر موږ سنت وه خو اوس را باندي فرض سوه. ځکه کله چې موږ کوم کور ته د غلا له پاره ننوزو ، ته اذانونه کوې او د کور خاوند را باندي ويښوې". چرګ پوه سو چې کوم کارونه چې ښه خلک ور باندي خوشالېږي بدکاران ور باندي خپه کېږي.

# دا وېش دي له چا نه زده کړ

وايي چې يوه ورځ زمری، شرمښ او ګيدړه يو ځای په ښکار و وتل، يو خر، يوه هوسۍ او يوه سوی يې ښکار کړل. زمري شرمښ ته مخ را واړاوه چې:

"دا ښکار ووېشه"!

شرمښ و ویل:

"خر یې ستاسي، هوسۍ یې زما او سوی یې د ګیدړي، دا سم تقسیم (وېش) دئ".

ده چي دا وېش وکړ نو د زمري طبعت خراب سو، پر ده یې ور ټوپ کړه سترګي یې په پنجو ور څخه وایستې. ګیدړه پوه سوه چي زمري ته خو ډېر درد ورغلی دئ. نو شرمښ ته لګیا سوه: "خدای دي خوار کړه داسي وېش څوک کوي لکه تا چي وکړ"؟

بیا زمري ګیدړي ته و ویل چي:

"ته یې و وېشه"!

هغې و ویل:

"ښه دا خو اسانه کار دئ. خر به سبایي وخورې، هوسۍ به بېګاه ته وساتې او په سوی به غاښونه تاوده کړې".

زمري و ویل:

"دا وېش دي له چا نه زده کړ"؟

هغې و ویل: "د شرمښ له سترګو څخه".

# زمری او موږک

یوه ورځ په یوه ځنګله کي د زمري په مخ کي یوه موږک و ځغستل. زمري موږک ونیو او غوښتل یې چي و یې خوري موږک زارۍ ورته پیل کړې چي:

"ما مه خوره، زه خو ډېر کوچنی حیوان یم په ما به دي څه و نه سي، یو وخت به دي په ښه در سم".

زمري موږک ته وویل:

" زه چي د ځنګله تر ټولو حیواناتو زورور حیوان یم ته به نو ما ته څه مرسته راورسوې". خو اخر یې موږک ایله کړ.

یوه ورځ یوه ښکاري په ځنګله کي دام اېښی وو چي غوښتل یې یو حیوان پکښې و نیسي. نا پامه زمری د ښکاري په دام کي بند سو. هر څه کوښښ چي یې وکړ ځان یې خلاص نه کړ نو یې په نارو وهلو پیل وکړ. د زمري نارې چي موږک واورېدې نو سمدستي د مرستي له پاره حاضر سو او د دام پړی (تناو) یې ځو ځایه پخپلو تېرو غاښو پرې کړ او زمری یې د ښکاري د دام څخه خلاص کړ.

# د ګيدړې کواله

يوې ګيدړې يو کاغذ پيدا کړ، نو راغله نورو ګيدړو ته يې وويل چې:
"د هغه باغ کواله (قباله) مې اخيستې ده، راځئ چې هلته مېله وکړو او راز راز مېوې وخورو".

نورې کيدړې هم په ډېره خوشالي باغ ته ور سره ولاړلې او باغ ته ور ننوتلې. ګيدړه چې کاغذ په لاس کې وو پر دېوال کښېناسته او نورو ګيدړو د مېوو په خوړلو پيل وکړ.

باغوان راغی د باغ دروازه يې وتړله او د ګيدړو په وهلو يې شروع وکړه. نورو ګيدړو هغې بلې ګيدړې ته ور ناري کړه چې: "کواله (قباله) دې څه کړه"؟

هغې وويل:" کواله دغه ده خو څوک يې نه مني".

# ګيدړه او لېوه

يوه ګيدړه په يوه ژور ځا کي و لوېده ، هر څومره چي يې زيار و کيښ و يې نه سوای کړای چي د ځا څخه را و وځي ، نو په چيغو او نارو يې پيل و کړ. نارې سورې يې يوه لېوه واورېدې ، په منډه د ځا غاړي ته ورغی. ګوري چي په ځا کښي يوه ګيدړه لوېدلې او نژدې ده چي پکښي مړه شي. خو لېوه د دې پر ځای چي ګيدړه له ځا څخه را وباسي په داسي خبرو يې پيل وکړ:

"زه چي تا په دې ژور ځا کي وينم په رښتيا سره ډېر خوا شينی يم. خو نه پوهېږم چي ته چا پدې ځا کښي غورځولې يې؟

څو ورځي کيږي چي ته پدې کوهي کښي پرته يې؟

ايا ساړه او يخني دي کيږي؟

ژر جواب راکړه چي زيات در باندي خوا شينی شوم".

ګيدړي ور ته و ويل:

”لومړی ما له مرګه خلاصه کړه او بیا چي هر سوال کوې جواب به يې درته و وايم ، ځکه اوس د خبرو او بحث ځای نه دئ. هره خبره او هر ټکی ځانته ځای لري”.

# بلبل او باز

یوه ورځ بلبل باز ته و ویل:

”کله چي زه خپل حال او ستا حال سره مقایسه کوم پر خپل حال مي ژړا راځي ځکه ته پر ټولو خلکو ګران يې. عادي خلک لا څه چي پاچاهان دي پر خپلو لاسو کښېنوي او له یوه ځایه دي بل ځای ته وړي. حال دا چي هيڅ غړېدلای (ړغېدلای) نه سې. خو زه سره له دې چي ښه اواز لرم او خوندوري سندري وايم ، په شپو ، میاشتو او حتا په کلو کلو په کپس کښي بندي یم”.

باز و ویل:” ایا پوهېږې چي ولي ټول خلک زما لمانځنه کوي”؟
بلبل ور ته و ویل:” يه ، نه پوهېږم”.

باز و ویل:

"د دې علت دادی چې زه خلکو ته ښکار کوم خو هیڅ نه وایم ، یعني زه هغه مرغه یم چې کار کوم او څه نه وایم. ته هغه مرغه یې چې وایې خو هیڅ نه کوې. نو موږ باید کار ډېر او خبري لږ وکړو. ځکه له زیاتو خبرو څخه څه ګټه نه اخیستل کیږي".

# خر او سپی

یو بزګر له کوره و ووت. له ځان سره یې خپل خر او سپی هم و ایستل. ډوډۍ یې د خره پر شا بار کړه او سپی هم ور سره رهي وو ، کله چې کښت ته و رسېد ، خر یې د څړ له پاره ایله کړ.

بزګر په کار بوخت سو او سپی په یوه ځای کي پرېووت. بزګر چې یو څه کار و کړ ، ستړی او ستومانه سو ، کار یې پرېښود، ولاړ چې تر یوې وني لاندي بیده (ویده) سي او خپله ستومانتیا لیري کړي. بزګر د یوې وني تر سیوري لاندي بیده (ویده) سو.

پدې وخت کي سپی ډېر وږی سو ، خره تــه راغی او ورتــه و یې ویل:

"ای ملګریه! اجازه ده چي د هغي ډوډۍ څخه چي ستا پر شا بار ده ، یوه مړۍ واخلم؟ ډېر وږی سوی یم".

خره ور ته وویل:

"صبر وکړه تر څو دي ښښتن را ویښ سي". نو خره د سپي خبري ته هیڅ غوږ و نه نیوی او بیرته یې په څرېدو پیل وکړ.

ډېر وخت لا نه وو تېر سوی چي یو وږی لېوه د خره پر لور راغی. خره چي لېوه ولید ډېر و وېرېد. په زاریو یې پیل وکړاو سپي ته یې وویل:

"ای ملګریه! لېوه نه وینې، ولي پروت یې؟ هیله کوم چي ما ور ځني خلاص کړې".

سپي ور ته وویل:

"ته هم صبر وکړه تر څو دي ښښتن را ویښ شي".

# تـــوتـــي

یوه سړي یو توتي درلود. کله چي به له کوره وتی نو توتي به یې هم له ځان سره یو وړ او په یوه ځای کي به یې ځوړند کړ.

سړی چي به کله په کار بوخت شو توتي به په خبرو پيل و کړ او ور ته ويل به يې چي:

"ورځ په خير".

يوه ورځ سړي ته يو ضروري کار ور پېښ شو، توتي يې په کور کښي پرېښود او ولاړ.

پدې وخت کښي د سړي ګاونډی راغی، توتي يې واخيست او خپل کور ته يې يو وړ. کله چي د توتي خاوند راغی ګوري چي توتي نشته. نو ډېر خواشينی شو او د ګاونډي کور ته ولاړ او ور ته و يې ويل:

"وروره! زما توتي چا وړی دئ ته خبر نه يې"؟

ګاونډي ور ته و ويل: "يه".

په دې وخت کي توتي د خپل خاوند ږغ وا ورېدی او نارې يې کړې: "ما واخله او کور ته مي يوسه". د توتي خاوند کوټې ته ور ننوت او توتي يې را واخيست. پر ګاونډي باندي يې خولې را ماتي شوې او له ځان سره يې وعده وکړه چي بيا به غلا نه کوي.

# لېوه د پسه په جامه کښې

یوه ورځ یوه لېوه د پسه پوستکی واغوستی او د پسو په رمه کې ګرځېد. لومړی پسونه او شپون نه په پوهېدل چې دا لېوه دئ او که پسه. کله چې به د شپون پام بلې خوا ته سو، ژر به یې پر یوه پسه حمله وکړه او هغه به یې و داړی. پدې توګه یې څو پسونه تېپیان کړل.

څه وخت وروسته شپون ور باندې پوه سو، نو یې و نیو او په یوه ونه پورې یې کلک (ټینګ) وتاړه، نا څاپه له څو ګړیو تېرېدو وروسته یو بل ډېر وږی لېوه پر هغه لورې راغی، ګوري چې پسه په ونه پورې تړلی دئ، نو ژر یې حمله ور باندې وکړه، خوله یې پرې و لګوله او غاښونه یې پکښې ننه ایستل. لېوه چې هرڅونه کوکارې او نارې وکړې او و یې ویل چې "زه ستا په شان لېوه یم مګر د پسه پوستکی مې اغوستی دئ"، هغه لېوه یې خبره و نه منله، په پای کښې یې لېوه په ډېره ناوړه توګه مړ کړ، څه یې و خوړ او ور څخه ولاړ.

# د زمري قانون

یو چرګ کلي ته نژدې په پټیو کې دانې ټولولې چې نا څاپه یوه ګیدړه ورباندې راغله ، چرګ چې ګیدړه و لیده ژر یې د یوې ونې څانګې ته ور ټوپ کړه . د ونې په یوه لوړه څانګه کې کښېناست، ګیدړه ونې ته نه شوای پورته کېدلای ، نو له خپل چل او مکر څخه یې کار واخیست او چرګ ته یې و ویل :

"اې چرګه ! زه خبره شوم چې ته ناروغ یې ، ستا د پوښتنې لپاره راغلې یم . هیله کوم چې یو وار را کښته سې تر څو یوه شېبه سره کښېنو، خبرې و کړو ".

چرګ ور ته و ویل :

"زه تا پېژنم چې چل بازه او مکاره ګیدړه یې او د دې له پاره راغلې یې چې ما و خورې . زه نه در کښته کېږم ، ځکه ستاسو خاندان زموږ ډېر چرګان ورونه خوړلي دي ".

ګیدړې ور ته و ویل :

"هغه خو د ناپوهۍ وختونه وه چې کوم قانون موجود نه وو . اوس د زمري له خوا یو نوی قانون جوړ سوی دئ او په هغه کې د

حیواناتو تر منځ دښمني لیري سوې ده او همدا سبب دئ چي اوس لېوه له پسه سره ، پیشو له موږک سره ، ګیدړه له چرګانو سره او همدارنګه نور حیوانات یو له بل سره یو ځای ګرځېدلای سي ”.

چرګ ور ته و ویل :

” شکر دئ چي د نوي قانون په اساس وبره له منځه ورکه شوه او د حیواناتو تر منځ دوستي مینځ ته راغله . نو زه هم هیله کوم چي ته هم د هغو سپیانو سره چي ستا پر لور را رهي دي کنبېني او خبري و کړې ”. ګیدړي چي دا خبره واورېده شا ته یې و کتل . ګوري چي په ریښتیا د دې پر لوري سپیان را رهي دي نو په ځغاسته یې شروع وکړه .

چرګ ور ته و ویل :
” چیرته منډي وهې ” ؟

ګیدړي ور ته و ویل :
” ښایي چي سپیانو به نوی قانون نه وي لوستلی ، په خبر به نه وي او ما به و خوري ”.

# موږکان او پیشي

په یوه کور کي ډیرو موږکانو ژوند کاوه. اما د دوی ژوند ډېر په تکلیف تېرېدی. ځکه په هغه کور کښي یوه ډېره غښتلې او تکړه پیشي هم اوسېده او موږکانو نه سوای کولای چي د دغي پیشي له ویري (بیري) د خپلو غارو څخه را ووځي. که چیري کومه ورځ یو موږک له خپل غار څخه را وتی نو پیشو به یو دم ټوپ ور باندي وواهه، هغه به یې و نیوی او و به یې خوړی.

موږکانو یو څه وخت پدې شان په تکلیف کي تېر کړ. په پای کي مجبور سول چي په کوم ځای کي مجلس سره وکړي او کومه چاره و سنجوي څو ځانونه د دې پیشي له شره خلاص کړي. هغه وو چي د دغه کور ټولو موږکانو ته یې خبر ور کړ چي یوه ورځ د دې له پاره چي د هغې پیشي له شر څخه د ځان د خلاصولو په سبب یو مجلس جوړوي.

مجلس په ډېر شوق او خوښي سره جوړ سو او ټول موږکان مجلس ته راغلل. د مجلس په پیل کي لوی موږک د ټولو نورو موږکانو څخه غوښتنه وکړه چي خپلي نظریې دي و وایي.

لومړی کوچنی موږک ولاړ سو او خپله نظریه یې داسي بیان کړه :

"موږ باید لومړی یوه کوچنۍ زنګوله (زنګ) پیدا کړو او د پیشي په غاړه کي یې ور وا چوو. کله چي پیشي را ووځي نو ټول موږکان به و تښتي دا د خلاصون یوازنۍ لار ده". په لومړي سر کي ډېر موږکان په دې نظریه خوشاله سول او چک چکي یې پر وکړې.

پسله دې څخه هغه لوی او هوښیار موږک له ځایه ولاړ سو او و یې ویل:

" کوم یو زموږ او ستاسي څخه کولای سي چي د پیشي په غاړه کي زنګوله ور واچوي"؟

د لوی موږک د دغي خبري په اورېدو سره ټول موږکان په فکر کي و لوېدل، له ډاره و رېږدېدل او و پوهېدل چي هیڅ یو د دوی نه سي کولای چي زنګ پیدا کړي او د پیشي په غاړه کي یې ور وا چوي.

# د وني شاهدي

يوه سړي يو چا ته زر افغانۍ په پور ور کړې. څه موده وروسته چي يې خپلي پيسې بيرته ور څخه و غوښتې پوروړی پر پيسو منکر سو.

د پيسو خاوند قاضي ته عرض وکړ. قاضي چي د دواړو څخه پوښتني وکړې، پوروړي سوګندونه کول چي ما ته يې نه دي راکړي.

قاضي د پيسو خاوند ته و ويل:

"چي پيسې دي چيري ور کړې"؟

هغه ورته و ويل چي:

" تر يوې وني لاندي ولاړ وو چي ور مي کړې".

قاضي د پيسو خاوند ته و ويل:

" ورسه هغه ونـه را وله چي شاهدي ورکړي".

سړي و ويل :

"ونه به څرنګه راسره راسي"؟

قاضي ورته وویل:
"ورشه وني ته ووایه چي راشه قاضي غوښتي یې".

سړی ولاړ چي ونه راولي، قاضي د پوروړي څخه پوښتنه وکړه: "هغه سړی به اوس رسېدلی وي"؟

پوروړي وویل:
"نـه تراوسه به لا نه وي رسېدلی. ځکه هغه ونه خو ډېره لیري ده".

قاضي چپ سو، څه شېبه وروسته د پیسو خاوند رانوت او سلام یې وکړ، قاضي ورته وویل:
"را دي نه وسته"؟

سړي ورته وویل:
"هر څونه چي مي ور ته وویل جواب یې را نه کړ".

قاضي وویل:
"راځه وني شاهدي ور کړه".

هغه سړي قاضي ته په حیرانتیا وویل: "زه خو دلته ستا سره ناست وم، وني کله شاهدي وویل"؟

قاضي ورته وويل:

"ما چي له تا څخه پوښتنه وکړه، چي هغه سړی به اوس وني ته رسېدلی وي؟ نو که يې تا ته رښتيا تر هغې وني لاندي پيسې نه وای در کړي نو تا به ويلي وای چي ما ته ونه نه ده را معلومه چي چيرته ده".

هغه سړي سر ځوړند ونيو او قاضي د سړي زر افغانۍ ځني واخيستې.

# خرس او زمری

يوه ورځ يو خرس مست سوی وو او هري خوا ته په ازادي سره ګرځېدی. د ډېر کبر او غرور څخه په ځنګله کي نه ځايدی. داسي يې فکر کاوه چي په دنيا کي تر ده هيڅ زور ور نه سته چي د ده سره دي مقابله وکړي. په اخر کي يې و زمري ته خبر ور کړ چي سبا ته دي له ده سره جنګ ته حاضر سي.

کله چي د خرس خبر و زمري ته ورسېد، زمري وويل:

” زه هیڅ وخت نه حاضرېږم چې د خرس سره جنګ وکړم، ځکه که زه دی مړ کړم نو دغه کار به زما له پاره فخر نه وي او که دی ما مړ کړي نو دا به زما د ټولي کورنۍ له پاره شرم وي ”.

کله چې خرس د زمري دغه خبره واورېده ډېر خوشال سو. فکر یې وکړ چې دی په رښتیا زورور دئ. ځکه یې و زمري ته خبر ور کړ چې زه د ځنګله ټولو حیوانانو ته خبر ور کوم چې زمری زما سره جنګ کولو ته حاضر نه سو. زمري و ویل:

”دغه شرم پروا نه کوي تر دې چې زما بدن د ده په مرداره وینه و لړل سي ”.

# زمری او غویی

په یوه ځنګله کي یوه ډېر زاړه زمري ژوند کاوه چې له ډېري کمزورۍ او زهیر والي څخه په ښکار پسې نه سوای وتلای. په ورځو او په شپو به وږی وو. دغه ځنګله ته نژدې یو ډېر چاغ غویی هره ورځ د څړ له پاره را وتی. زمري دا چاره و سنجوله چې دغه غویی به د مېلمستیا په بانه (پلمه) را وغواړي او غوښي به یې وخوري.

د دې له پاره يې ګيدړه ور ولېږل او ور ته و يې ويل چي زمري تا ته سلام وايه او پسله سلامه يې تا ته بلنه درکړې ده چي د غرمې د ډوډۍ د خوړلو له پاره و ځنګله ته راسې چي هلته يې ستا د مېلمستيا له پاره ښه خواږه وابښه بربر کړي دي او د ځان له پاره يې د وري غوښي پخې کړي دي.

غوايي هم د زمري مېلمستيا په خوښي سره و منله او د ځنګله پر لور رهي سو. کله چي د زمري کور ته را نژدې سو، ګوري چي هلته نه وابښه سته او نه د وري غوښي، بلکي يو لوی دېګ او يو شمبر لوی لوښي ايښودل سوي دي.

غوايي چي دغه دېګ او لوښي و ليدل نو و تښتېد. زمري پسې ور ږغ کړه:

"چيري ځې؟ خوښه دي نه ده چي له ما سره کښېنې، مجلس و کړې او هغه ډوډۍ چي ستا له پاره مي جوړه کړې ده و خورې"؟

غوايي و ويل: " کله چي مي دغه لوی دېګ او لوښي و ليدل و پوهېدم چي په دې کي د وري غوښي نه دي پخې سوي بلکي دغه د غوايي د غوښو له پاره جوړ سوي دي. زه د دې له پاره نه يم را

غوښتل سوی چې د زمري سره ډوډۍ وخورم بلکي د دې له پاره راغوښتل سوی یم چې زمری زما غوښې و خوري".

# د چرګ هوښیاري

یوه ورځ یوه وږې ګیدړه د یوه کلي پر خوا روانه سوه. کله چې کلي ته نژدې سوه و يې لیده چې یو چاغ چرګ د دانې په ټولولو بوخت دئ. ګیدړه د چرګ په لیدو سره ډېره خوشاله سوه او د خدای شکر يې و کیښ. کرار کرار يې ځان چرګ ته ور نژدې کړ او ورته و يې ویل:

" ما له ډېره وخته ستا پلار پېژندی، هغه زما د دوستانو او رفیقانو څخه وو. زړه وړونکی اواز او ښه ځواني يې درلوده. هر وخت چې به زه پر دې لار تېرېدم نو به ورته راغلم او د ده زړه وړونکی اواز به مې واورېدی نو به ډېري ورځې خوشاله ومه، نه پوهېږم چې ستا اواز څرنګه دئ"؟

چرګ ور ته و ویل:

”زما اواز او ځواني که زما د پلار تر هغې ښه نه وي بد هم نه دي”. د ګیدړي د خوښۍ له پاره یې خپل وزرونه و ښورول او سترګي یې پټي کړې په اذان کولو یې پیل وکړ. پدغه وخت کي ګیدړي ژر حمله پر وکړه او پخپلو تېرو غاښو یې و نیوی او د غره و خوا ته روانه سوه. پدې حال کي د کلي سپي خبر سوه ټولو په ګیدړي پسې و ځغستل او ګیدړي ته یې ځانونه ور و رسول. ګیدړه نه پوهېده چي څه وکړي پدې وخت کي چرګ ور ته و ویل:

”اې ګراني ګیدړي که غواړې چي د سپیانو له شر څخه ځان خلاص کړې نو ور ته و وایه چي دا چرګ ستاسي د کلي نه دئ. کله چي ګیدړي خوله خلاصه کړه چي خبري وکړي، چرګ یې د خولې څخه ځان خلاص کړ او د کلي پرلور یې و ځغستل”.

# توره موچۍ او چرچرکه

یوې خوارکۍ موچۍ په یوه باغ کښي ګبین جوړ کړی وو. هیڅ ارام یې نه وو. چي سهار به سو نو به په شنو باغو او ګلانو کي ګرځېده او له هغو څخه به یې خوږه شیره را غونډوله او په خپل

ګبین کي به یې ذخیره کوله. په لږ ورځو کښي یې خپل کندو له شاتو څخه ډک کړ او د ژمي له غمه یې ځان خلاص کړ.

پدغه باغ کښي یوه شورناکه چرچرکه هم اوسېده، همېشه به یې سندري ویلې او ژوند به یې په خوشالي تېراوه او د سبا ورځي غم ور سره نه وو. څه چي به یې په لاس ور تله هغه ګړی به یې خوړل. کله چي د ګرمۍ ورځي تیري سوې ژمی او یخني راغله. د ګرځېدو او خوراک پیدا کولو لاري بندي سوې.

هغه موچۍ چي اوړی او پسرلی یې په زحمت تېر کړي وه او پوره ذخیره یې ټوله کړې وه خپل ګبین ته به ننوتله او هلته به ارامه کښېناسته او د اوړي د کړاو فایده به یې خوړه.

یخو بادو او واورو شروع وکړه، هوا بدله سوه، مځکه په واورو پټه سوه او سخت ژمی پیل سو. کله چي چر چرکي ولیده چي هري خوا ته لاري بندي دي نو دې موچۍ ته راغله او له سختي یخني او لوږي څخه یې ورته شکایت و کړ او مرسته یې څني وغوښتل.

مچۍ په جواب کي ور ته و ویل:
"ما ټول اوړی او پسرلی کوښښ کړی دئ او خوراکه مي ټوله کړې ده. ناپوهي!" ته خو هغه یې چي د سبا فکر در سره نه وو او غزلي

به دي ويلې او خوشالۍ به دي کولې . هيڅ فکر دي نه کاوه چې يوه ورځ به داسي را سي چې نه به سړی کار کولای سي او نه به څوک مرسته ور سره کولای سي".

چرچرکي چې د موچۍ خبري واورېدلې، ډېره پښېماني يې وکړه او و يې ژړل چې ولي مي د کار په وخت کي بې پروايي کوله چې اوس داسي محتاجه او په بد حال يم.

# لېوه او سپی

يوه سړي يو قوي او چاغ سپی درلود. د دې له پاره چې له يوې خوا يې سپی خوروړی سي او له بلي خوا له ورځي څوک و نه داړي نو هغه به يې په پنډ او کلک پړي يا ځنځير په يوه ځای کښې و تاړه.

يوه ورځ پر سپي باندي يو لېوه چې د ډېر ډنګروالي يې د بدن هډوکي ښکارېده راغی او ور ته و يې ويل:

"ملګريه! ډېر وږی يم. په شپو او حتا په هفتو څه شی نه سم موندلای. ژوند مي ډېر تريخ دئ. له ډېر ډنګروالي مي هډوکي له ليري ښکاري. نه پوهېږم چي څه چاره و کړم او چېرته ولاړ سم"؟

سپي ورته و ويل:
"چاره يې ډېره اسانه ده. راځه زما په شان وظيفه و نيسه".

لېوه ورته و ويل:
"ستا وظيفه څه شی ده"؟

سپي و ويل:
"زما وظيفه دا ده چي د څښتن کور مي ساتم تر څو غله ور ته را نه سي. نو زما څښتن د دې کار په سبب ښه ښه خواړه او ښې ښې غوښې را کوي".

لېوه و ويل:
"دا خو ډېر ساده او اسانه کار دئ. نو هيله کوم چي داسي وظيفه ماته هم پيدا کړې".

د خبرو په ترخ کي نا څاپه د لېوه سترګي پر يوه ټپ و لګېدې چي د سپي په غاړه کي يې و ليدى. نو له سپي څخه يې د هغه ټپ په باره کي پوښتنه وکړه.

سپي و ويل:
"دا د ځنځير او پړي ټپ دئ. ځکه خاوند مي د ورځي له خوا په ځنځير يا پړي تړي تر څو خلک و نه داړم او د شپې له خوا مي خوشي کوي چي د کور پاملرنه و کړم".

لېوه ور ته و ويل:
" د اسارت او مريتوب ژوند مي خوښ نه دئ او نه غواړم چي په داسي ذلت او بندګۍ ژوند و کړم. ځکه د ازادۍ ژوند ډېر خوندور ژوند دئ. که څه هم انسان پکښي په لوږه اخته وي".

# د انسان کمال

يوه ښکاري په يوه ځنګله کي يوه کوتره وليده، ټک يې پر وکړ. کوتره زخمي سوه، والوته راغله د زمري و مخ ته ولوېده.

زمري و ويل: "څه کوې"؟

کوتري و ویل: ”د انسان له لاسه، ما بې سببه په توپک ولي“.

یو ساعت وروسته یوه ډله د ځنګله له ځناورانو څخه لکه پړانګ، ګیدړه، سرکوزی، چغال، شرمښ، بیزو، شکونړ، کوږ، او نور، زمري ته په عرض راغلل.

زمري و ویل: ”خیر څه در سوي دي، ستاسي راتګ د څه له پاره دئ“؟

ټولو نارې کړې، ”د انسان له لاسه، هره ورځ یې توپک راپسې اخیستی وي، په توپک مو ولي ډېر په عذاب یو“.

پدې وخت کي ګیدړه پر را د مخه سوه و یې ویل. ”زموږ پیاوړې مشره! ما چي مړه کي بیا نو پوست هم را څخه وکاږي“.

زمري و ویل: ”دا انسان څنګه شی دئ چي داسي پیاوړی دئ“؟

ځناورانو ور ته و ویل: ”داسي جګ نری پر دوو پښو ولاړ په کالو پټ ژوندی شی دئ“.

زمري و ویل: ”عجبه ده د دې یوه انسان څخه ټول په عذاب یاست اوس به یې زه کار ور وکم“.

ټول را رهي سول او ښکاري ته راغلل. زمري و ويل "څوک يې او دلته څه کار لرې"؟

ښکاري و ويل: "زه انسان يم، دلته په لرګو پسې راغلی يم".

زمری: "لرګي څه کوې"؟

ښکاري: "زه ترکاڼ يم د لرګو څخه ښې ښې خوني جوړوم".

زمري له ځان سره فکر وکړ چي انسان خو وژلای سم، نو لومړی به ځان ته يوه خونه په جوړه کم، بيا به يې په ارامه مړ کم.

زمری: "ښه، ته چي ترکاڼ يې، ماته به يوه د لرګو خونه جوړه کړې"؟

ښکاري: "خدای دي تا ژوندی لري، پر سترګو! مګر درې ورځي وروسته".

هغه وو چي ښکاري ښار ته راغی، ډيري اوسپني او د ترکاڼۍ سامان (اسباب) لکه ترښځ (تېشه)، رنده، برمه، اره، سکنه او نور يې يو ځای کړل بيرته ځنګله ته راغی او په کار يې شروع وکړه.

ډېر کلک او ښکلی کپس يې د اوسپنو او لرګو څخه جوړ کړ. زمري ته يې و ويل:

"دا دئ صاحبه! يوه ښه خونه مي درته جوړه کړه ته په ننوزه چي خوښه دي ده که يه"؟

د زمري تندی ډېر وغوړېدی نو په تلوار ورننوت. ښکاري دستي د کپس ور پسي پوري کړ، غټ قفل( کولپ ) يې ور واچاوه.

زمري چي هرڅه وکړل خو له لاسه يې هيڅ پوره نه سوه.

ګيدړي ور ته و ويل: "څنګه تا خو ويل چي انسان څه شی دئ د انسان زور دي وليدی"؟

پړانګ، شرمښ، شکوڼ او کوږ چي دا حال وليدی نو يې د انسان زور ومانه او په تلوار له ځنګل څخه ولاړل.

# مېږ او لېوه

يوه توره مېږ وه، يوه ورځ يې سر کښته اچولی وو په خپل څر لګيا(بوخت) وه. کله چي يې سر را پورته کړ، ګوري چي له رمې او شپانه څخه ډېره ليري پاته سوې ده. په دغه وخت کي يو وږی

لېوه د مېږي خوا ته را روان دئ او سترګي يې داسي ښکاره کېدلې لکه د سرو وينو ډک جامونه. د لېوه په ليدلو سره مېږي و ويل:
"ښه ښه سلام عليکم"، لېوه خپل غاښونه وچيچل، په ډېر غرور يې و ويل:
"سلام"، خپلي خبري يې داسي پيل کړې:

"دلته څه کوې؟ خبره نه يې چي دغه ملک يا سيمه ماته له نيکه په ميراث کي را پاته ده؟ دا چي ته دلته بې پوښتني راغلې يې نو زه به دي هم وخورم".

مېږ پوه سوه چي له سختي ستونزي (مشکل) يا مرګ سره مخ سوه نو خيال او فکر يې وکړ چي داسي څه وکړي چي له مرګ څخه ځان و ژغوري. تر ډېر غور وروسته يې لېوه ته و ويل:
"رښتيا خبره دا ده چي زما باور نه راځي چي دغه سيمه به تا ته له خپل نيکه څخه په ميراث در پاته سوې وي. د دې له پاره چي زما باور راسي نو ښه به دا وي چي له ما سره زيارت ته ولاړ سې. کله چي دي پر زيارت لاس کېښېښود او قسم دي و کړ نو خبره به سپينه سي چي دغه سيمه ستاسي ده يعني په زيارت به لوړه وکړې".

لېوه ګومان وکړ چي مېږ خو ډېره ناپوهه ده نو پرېکړه يې وکړه چي ځه ور سره ولاړ به سم بيا به يې تر هغه وروسته وخورم.

دواړه د زيارت پر لور روان سول، لېوه او مېږ هغه ځای ته و رسېدل چي هلته د رمې سپی ويده (بيده) ول.

مېږي لېوه ته و ويل:
"لېوه وروره! زيارت دلته دئ، اوس نو کولای سې چي لوړه وکړې چي دغه سيمه ستا د نيکه ده".

کله چي لېوه لاس پر ونه کښېښود چي قسم وکړي، نو سمدستي سپی له خوبه راويښ سو، ورو ورو لېوه ته ور نيژدې سو غوټه يې باندي و وهله لېوه يې تر ستوني ونيوی او مېږ له مرګ څخه و ژغورل سوه.

# سپی او کوټی

يوه سړي يو سپی او يو کوټی (د خره بچی) درلود. سپی پر سړي ډېر ګران وو. ځکه هره ورځ به يې ورسره ساتيري کوله، کله به يې پښې د سړي پر لاسو او يا ځيګر باندي ورکښېښودې.

د کوتې پر سپي حسد راغی او له ځانه سره يې و ويل ، چي بايد زه هم له دې وروسته زيار و باسم تر څو پر خاوند باندي ګران سم.
نو بله ورځ يې د سپي په شان ور منډې کړې ، او پښې يې د څښتن پر اوږو کښېښودلې. خاوند يې ډېر په غصه ( درد ) سو، لرګی يې را واخيست ، کوتی يې زيات و واهه او ورته و يې ويل:
" ای احمقه! کوم کارونه چي له سپي سره ښه ښکاري هغه له تا سره ښه نه ښکاري. نو ته په خپل خدای در کړي استعداد قانع سه او هغه کارونه وکړه چي له تا سره ښه بريښي او د کولو توان يې و لرې او هيڅکله په هغو کارو خپل ځان مه مکلف کوه چي له تا سره ښه نه بريښي او نه يې کولای سې".

# د درواغو دعوه

د يوه سړي څخه د څلورو سوو روپيو يوه هميانۍ ورکه سوه، ډېره يې و لټوله خو پيدا يې نه کړه.

اعلان يې و کړ چي که د ده هميانې چا پيدا کړه او را يې وړه، دوه سوه روپۍ به انعام ور کړي.

همياني يوه غريب بزګر و مونده او ورته را يې وړه. کله چې يې انعام ځني و غوښت، سړي خوله پر را خلاصه کړه او دعوه يې پرې وکړه چې د ده په همياني کي دوې مرغلري هم وې، "هغه څه سوې"؟

بزګر و ويل: "ما خو مرغلري نه دي ليدلي، دغه همياني چې مي څنګه مونډلې ده، هغسي مي راوړې ده".

د هميانۍ خاوند و ويل: "څه ته د انعام ور نه يې، ځکه تا مرغلري پټي کړي دي او غله ته انعام نه سي ور کول کېدلای".

بزګر پوه شو چې سړي دوو سوو روپيو ته خبره جوړه کړې ده او پدې چل را نه پيسې خوري، نو ژر قاضي ته ولاړ.

قاضي د هميانۍ څښتن را وغوښت او ور ته و يې ويل: "ته په څه وايې چې ستا په همياني کښي دوې مرغلري هم وې"؟

سړي و ويل: "هو قاضي صاحب دوې سوچه مرغلري هم په کې وې، هغه دي راکړي، چې انعام ور کړم".

قاضي بزګر ته مخ ور واړاوه او و يې ويل: "هلکه پدې همياني کي دوې مرغلري پرتې وې"؟

هغه و ویل: " قاضي صاحب زه قسم خورم چي تر څلور سوه روپیو پرته نور هیڅ شی هم نه وو".

قاضي د همیانۍ څښتن ته و ویل: "ته وایې چي مرغلري پکښې وې او دی قسم خوري چي نه وې پکښې. نو معلومه سوه چي ستا همیاني دا نه ده. دا د کوم بل چا څخه لوېدلې ده، دا د بزګر سوه او چي ستا همیاني څه وخت پیدا سوه نو در و به سپارل سي".

# لېوه او پسه

یوه ورځ یو پسه په یوه چمن کي په څر بوخت وو چي نابېره یو وږی لېوه ور باندي راغی، پسه چي لېوه و لید په منډه یې پیل وکړ او لېوه (شرمښ) هم ور پسې و ځغاست. پسه پسله څه ځغستا څخه ستړی سو او و پوهېدی چي د لېوه څخه نه سي خلاصېدای. ځکه نو و درېدی او مخ یې و لېوه ته را واړاوه او ور ته و یې ویل:

"زه پوهېږم چي ته ما خورې او پوهېږم چي زه ستا څخه نه سم خلاصېدای. دغه دئ خپل ځان و تا ته په ډېر احترام تسلیموم. مګر زه یوه غوښتنه لرم، هغه دا چي د مخه تر دې چي زه مړ سم

غواړم چي ستا په مخ کي نڅا وکړم او ته اواز راته و کړې او دا کار به ستا په ژوند کي يوه خاطره وي".

لېوه په ډېره خوښي د پسه غوښتنه ومنله او په اواز کښلو يې پيل وکړ ، پسه په نڅا پيل وکړ. د لېوه اواز د کلي شاوخوا سپو واورېدی او په ځغاسته راغله. د سپو په را رسېدو سره لېوه ځان په خطر کي و ليدی، و تښتېد او پسه يې له خولې و وتی.

لېوه پدې پښېنه ډېر خواشينی سو او و يې ويل: "ما د ځان څخه سازنده جوړ کی حال دا چي زه بايد قصاب وای".

# ګيدړه او بزه (وزه)

يوه ګيدړه چي ډېره تږې سوې وه ، شا و خوا ګرځېده تر څو يو غوړپ اوبه پيدا کړي او و يې چښي. هغه وو چي پر يوه څا پېښنه سوه. نابېره يې پښه و ښويده او په څا کي و لوېده. هر څومره چي يې کوښښ و کړ و يې نه سوای کړای چي د څا څخه را و وزي نو نا چاره سوه چي هلته پاته سي.

پدې وخت کې یوه تږې بزه (وزه) هم دې ځا ته راغله. که ګوري چې په ځا کې یوه ګیدړه ده. بزې (وزې) د ګیدړې څخه پوښتنه و کړه:
"اې ملګرې! د دې ځا اوبه خوږې دي که تروې"؟

**ګیدړې جواب ور کړ** : " ګرانې ملګرې! داسې خوږې اوبه دي چې په ژوند کې مې نه دي څښلي، را کښته سه او د دې ځا اوبه و څښه".

کله چې بزې (وزې) د ګیدړې دا خبره واورېده نو دا هم ځا ته ور کښته سوه. ګیدړه چې ډېره چالاکه وه نو ژر یې د بزې (وزې) پر اوږو پښې کښېښودې او له ځا څخه یې ځان را و ایست او بزه (وزه) یې په ځا کې پرېښوده.

بزې چې هر څومره کوښښ و کړ چې له ځا څخه را ووزي بریالۍ نه سوه نو یې له ګیدړې څخه مرسته و غوښته او ور ته و یې ویل: "ګرانې ملګرې! ما چې ستا سره مرسته و کړه او ته مې له ځا څخه را و ایستې نو اوس ته هم زما سره مرسته و کړه".

ګیدړې ور ته و ویل: " تا خو زما سره هیڅ مرسته نه ده کړې، دا

خو زما ښه فکر وو چې زه یې د دې ځا ځخه را و ایستم”. بزه هم ناچاره سوه او په ځا کې پاته سوه.

# زوړ سپی

یوه سړي یو ډېر وفا داره او چالاکه سپی درلو. سپي ډېر کلونه په ډېره وفا داري او رښتیا سره د خپل څښتن سره هم په ښکار او هم د کور په ساتلو کې خدمتونه کړي وه. سپی د وخت په تېرېدو سره ډېر کمزوری سوی وو او غاښونه یې لوېدلي ول.

یوه ورځ چې څښتن په ښکار پسې وتی نو سپی یې هم له ځان سره و ایست. تر لږ ګرځېدو وروسته یې یوه هوسۍ و لیده. سپي په هوسۍ پسې په ډېره تیزي و ځغستل، هوسۍ یې و نیوله خو څرنګه چې هوسۍ ډېره زوره وره وه او سپی ډېر کمزوری نو هوسۍ ور څخه ولاړه.

ښکاري په دې پېښه ډېر خواشینی شو نو یې د سپي په وهلو شروع و کړه او سپی یې ډېر کلک و واهه. سپي د وهلو په وخت کې خپل څښتن ته و ویل: ” ما مه وهه، زه اوس زوړ یم او غاښونه مي هم لوېدلي دي. ما پـه خپل ټـول ژوند کې تا ته هم د کور په

ساتلو او هم په ښکار کي ډېر ښه خدمتونه کړي دي.

ځښتن د دې خبري په اورېدلو سره سپی د ژوند تر پایه پوري ښه ساتی او خواړه يې ور کول.

# نوکر او آس

یو سوداګر د خپل نوکر سره په سفر رهي سو. سودا ګر له ځان سره خپل آس هم رهي کړ. پسله څه سفر کوولو څخه د شپې د تېرېدو له پاره په یوه کلي کي پاته سول. په دې وخت کي یوه سړي ور ته و ویل:
"په دې کلي کي خورا ډېر غله دي، نه چي آس مو در څخه غلا کړي. سوداګر چي دا خبره واورېده نو يې نوکر ته و ویل: "نن شپه به ته بیده سې او زه به پیره کوم چي آس څوک غلا نه کړي. نوکر ور ته و ویل:
"دا ښه کار نه دی چي نوکر بیده وي او بادار پیره کوي، ته بیده سه او زه به پیره کوم.

پسله څو ساعتو خوب کولو څخه سوداګر را ویښ سو او له نوکر

څخه یې پوښتنه و کړه :

" په څه شي کي فکر کوې " ؟

نوکر جواب ور کړ :

" پدې کي فکر کوم چي خدای (ج) مځکه څرنګه پیدا کړې ده ".

سوداګر ور ته و ویل :

" دا فکر مه کوه ، نه چي آس غله بو نه زي ".

نوکر ور ته و ویل :

" زه پر آس پیره کوم . ته بې غمه بیده سه ".

پسله څه مودې څخه بیا سوداګر را ویښ سو او له نوکر څخه یې پوښتنه وکړه : " په څه شي کي فکر کوې "؟

نوکر جواب ور کړ :

" پــه دې کي فکر کــوم چي خدای (ج) اسمان څـرنګه بــې پــایو ( ستونه ) پیدا کړی دئ ".

سوداګر ور ته و ویل :

" پــه دې خــبرو کي فکر مه کوه نه چي آس غله در څخه بو نه زي ".

نوکر ورته و ویل:

" ته بېغمه ارام و کړه، زه پر آس پیره کوم".

د دې ځلي چي سوداګر بیا را ویښ سو د نوکر څخه یې پوښتنه وکړه : " په څه شي کي فکر کوې "؟

نوکر جواب ور کړ: " په دې کي فکر کوم چي د آس ځین به ته واخلې او که زه ، ځکه آس غلو ببولی دئ او ځین یې پر ایښی دئ".

# وزر ماتې مرغۍ

منی تېر سو او ژمی راغی. هوا سړه سوه. کوچي مرغان تودو ځایو ته ولاړل. یوه عاجزه مرغۍ چي وزر یې مات سوی وو او الوتلای نه سوه پاته وه.

دا مرغۍ د ونو یوه نژدې ځنګل ته ورغله د دې له پاره چي د ګرمۍ تر راتلو هلته د اوسېدو ځای پیدا کړي.

اول چنار ته ورغله د ځای خواهش یې ځني وکړ. چنار په ډېر غرور او تکبر ولاړ وو، و یې ویل:

"زما خوا ته نژدې مه راځه نه چي ستا بده ورځ ما ته را و رسيږي".

د زردالو وني ته ولاړه. هغې ور ته و ويل:

"زما څخه دا غوښتنه مه کوه. ځه خپله لار دي وهه، دلته د بېګانوو له پاره ځای نه سته".

ولي ته ورغله. هغې ورته وويل:
" ځه نژدې مه راځه، زه چي ستا چټل مخ ته ګورم، ډاربږم نه چي ستا د دغه حالت تاوان ما ته را و رسيږي".

مرغۍ عاجزي چي دا جوابونه واورېدل حيرانه سوه، نه پوهېده چي څه وکړي او چيرته ولاړه سي. پدې وخت کي نښتر له ليري و ليده ور ږغ يې کړه:

اې غريبي مرغۍ!
" څه غواړې او چېرته ځې"؟

دې جواب ور کړ:
"وزر مي مات دئ الوتلای نه سم. نوري مرغۍ تودو ځايو ته ولاړې او زه پا ته سوم. ټولو ونو ته ورغلم چي ځای را کړي، يوې لا هم زړه را بـاندي و نــه سوځی (سبزه) او نه يې ځای راکړ چي د

ژمي دغه ساړه پکښې تېر کړم".

نښتر ور ته و ويل: "راځه ما ته راسه، هره ځانګه چې دي خوښه وي، هلته ځای خوښ کړه او کښېنه".

مرغۍ د نښتر په يوه ښاخ کښې ځای خوښ کړ او پکښې کښېناسته . نښتر ته يې دعاوي و کړې.

يوه شپه سخت باد راوالووت، د چنار، زردالو او ولي پاڼې يې توی کړې مګر د نښتر پاڼې چې د هغې خواري مرغۍ سره يې ډېر احسان کړی وو ټولي شنې پاته سولې.

# برابر وېش

دوه موږکان پر يوه لار سره ملګري ول. يو او بل ته يې سره و ويل:
"هر څه که مو پيدا کړل په خپلو منځو کي به يې برابر و وېشو".
په پای کي د يوه پنير خرڅوونکي دکان ته راغلل. د شپې پنير خرڅوونکی کور ته ولاړ او دکان موږکانو ته پاته سو .

موږکانو په یوه کاسه کې د پنیر یوه ټوټه پیدا کړه. د پنیر ټوټه یې را واخیسته او و یې ویل: " اوس نو باید یو دریم څوک وي چې د پنیر دغه ټوټه برابره را و وېشي"، نو راغله یوې پیشي ته یې ور ږغ کړه چې دا کار وکړي.

پشي و ویل چې:
" د دې کار له پاره یوې تلې (ترازو) ته اړتیا ده"، نو یې د دکان له تلي څخه کار واخیست.

پنیر یې دوې ټوټې کړ او د تلې و پلو ته یې ور واچاوه. که ګوري چې د تلي یوه پله درنه او یوه سپکه ده، نو یې د درنې پلې د پنیر څخه یوه ټوټه پرې کړه او په خوله یې کړه. ګوري چې اوس بیا هغه بله پله درنه سوه، نو یې د هغې پلې د پنیر څخه یوه ټوټه راپرې کړه او خولې ته یې واچوله څو په دې شان یې ټول پنیر و خوړ.

موږکانو یو او بل ته سره وکتل او پیشو ته یې وویل:" دا څرنګه وېش او قضاوت وو"؟ پیشو ور ټوپ کړه او دواړه یې و خوړل او له ځان سره یې و ویل: "دا ساده ګان ګوره چې تر اوسه یې خپل دوست او دښمن و نه پېژندی".

# ګیدړه او بڼ

یوه ګیدړه چي ډېره وږې سوې وه ، یوه بڼ ته چي د راز راز مېوو ځخه ډک وو ، راغله او و یې غوښتل چي بڼ ته ننوزي او له مېوو ځخه یې و خوري. خو د بڼ ور تړلی او د ننوتلو هیڅ لار نه وه. نو د بڼ تر دېوال شاو خوا و ګرځېده څو د ننوتلو لار پیدا کړي. بڼ ته د ننوتلو هیڅ لار نه وه خو په اخر کي تر موری ور ننوتله. هلته یې دومره مېوې و خوړلې او اوبه یې هم و چیښلې چي نس یې و پړسېد.

کوم وخت چي یې و غوښته له بڼ ځخه و وزي ، نو هغې موری ته ورغله. د دې کبله چي نس یې پړسېدلی وو په موری کي بنده سوه. ګیدړه د دې پیښي ځخه ډېره خوا شینې سوه او فکر یې و کړ چي څه چاره و سنجوي. په پای کي یې له ځان سره فیصله و کړه چي په موری کي پاته سي تر څو بیرته وږې سي او د نس پاړسوب یې کښیني.

څه وخت وروسته یې د نس پاړسوب کښېنوست او له بڼ ځخه را و وتله. د روانېدو په وخت کي یې مخ د بڼ پر لور را واړاوه او داسي یې ور ته و ویل:

”اې ښکلې بڼه! ته ډېر ښايسته يې ، مېوې دي خوږې دي ، اوبه دي سړې او خوندوري دي ، خو ما ته دي کومه ګټه و نه رسېده ، ځکه د ننوتلو په وخت کي هم وږې وم او اوس هم وږې در څخه ځم“.

# ګيدړه او چرګه

يوه ګيدړه ډېره وږې سوې وه نو د يوه کلي پر لور را رهي سوه چي د خوړو کوم شی پيدا کړي. کله چي کلي ته را و رسېده ګوري چي د يوه کور پر بام يوه چاغه چرګه ناسته ده.

ګيدړي له ځان سره فکر و کړ چي په څه چل به دغه چرګه و خوري، نو چرګي ته يې په داسي خبرو پيل و کړ چي:

” ګراني خوري زه خبره سوې يم چي ته ناروغه سوې يې او ګرځېدای نه سې. نو اوس راغلې يمه چي ستا پوښتنه وکړم او دوا در و ښيم. مهرباني و کړه د بام څخه راکښته سه څو يو ګړی سره کښېنو او د زړه حال يو او بل ته و وايو“.

چرګي ور ته و ويل:

"د خدای (ج) شکر دئ زه جوړه او روغه يمه او هيڅ لا نه دي را سوي او نه غواړم چي در کښته سم. زما مور ماته داسي نصيحت کړی دئ چي هيڅ وخت به د دښمن په غوړو خبرو نه غولېږې او هيڅ وخت دي دښمن نه دوست کيږي. نو ته زما دښمنه يې او ستا کورنۍ هم زموږ د کورنۍ سره ذاتي دښمني لري. نو زه نه در کښته کېږم. ګيدړي چي دا خبري واورېدې په ډېره خواشيني سره ولاړه.

# د سپي وفا

يوه شپه يو غل د يو چا د کور پر دېوال را وخوت، د کور خاوند يو وفاداره او زورور سپی درلود. سپي چي غل و ليد په غپا يې پيل وکړ او کوښښ يې کاوه چي د کور خاوند را ويښ کړي. غله د دې له پاره چي سپی نور و نه غاپي نو سپي ته يې يوه ډوډۍ ور ښکاره کړه. سپي د غله ډوډۍ و نه منله او غله ته يې و ويل:

" دا ډوډۍ چي ته يې را کوې رشوت دئ او دا رشوت په دوه سببه زه نه منم. لومړی دا چي که زه و نه غاپم نو څښتن مي نه را ويښيږي او ته د کور سامان او شيان وړې او دا کار د کور د خاوند په حق کي لوی خيانت دئ، ځکه هغه ما ساتي او ما ته

ډوډۍ راکوي او زه نه غواړم چي د ده د دغه نېکۍ په مقابل کي خیانت ور سره و کړم.

دوهم دا چي که زه د کور څښتن را ویښ نه کړم او تا پرېږدم چي د کور شیان یې یوسې نو خاوند به مي مسکین سي او بیا به نه سي کولای چي ما ته ډوډۍ راکړي نو هیڅکله دا کار نه کوم". تر دې وروسته سپي په زوره زوره و غپل هغه وو چي د کور خاوند را ویښ سو او غل و تښتېد.

# ګیدړي او سوی

دوې ګیدړي ډېري وږي سوې. له غاره را و وتلې څو د خوړلو له پاره یو شی پیدا کړي. دواړي سره رواني وې چي نا څاپه یو سوی له غاره را و ووت او د کښت پر لور یې منډي کړې.

ګیدړو هم په ډېره چالاکي ور پسې منډي کړې. په پای کي یې سوی و نیوئ او د هغه د خوړلو له پاره یې ځانونه چمتو کړل. پدې وخت کي یوې ګیدړي و هغه بلي ګیدړي ته و ویل چي:

"دا سوی زما حق دئ او ته یې پرېږده چي زه یې و خورم".

هغه بلي ګيدړي و ويل چي:
" زما حق دئ ځکه چي لومړی ما و نيو ".

په پای کي دواړو په جنګ او جګړه شروع و کړه. دوی دواړي په جګړه بوخت دي چي پر سر يې يو شاهين راغی. ګوري چي سوی ژوندی ولاړ دئ او ګيدړي په جګړه سره اخته دي. نو شاهين ژر ور کښته سو او سوی يې په منګولو کي و نيوی او هوا ته يې پورته کړ.

ګيدړو چي دا حال و ليدی ډيري خوا شيني سولې او و يې ويل:
"چي د جګړې او بې اتفاقۍ پای تل زيان او تاوان دئ".

# ترکاڼ او بيزو

يوه ترکاڼ د لرګي يوه غوله اره کوله. يوه بيزو په ونه کي ناسته وه او ترکاڼ ته يې کتل. ترکاڼ تر څه کار کولو وروسته ستړی او ستومان سو نو ولاړ تر څو په يوه ځای کي بيده (ويده) سي او خپله ستړيا ليري کړي. هغه وو چي د خوني د دېوال تر څنګ بيده سو.

بیزو چي دا حال له خدایه غوښت له وني څخه را کښته سوه ، پر لرګي باندي کښېنسته او په خپله مستي یې شروع وکړه. یوه شېبه وروسته یې د لرګي هغه ټوټه چي ترکاڼ د غولې په درز کي ایښې وه را و ایسته. د لرګي له را ایستلو سره سم د غولې دواړي پلې سره ورغلې او د بیزو لکۍ کلکه پکښې بنده سوه.

بیزو چي هر څومره زیار و ایست و یې نه کړای سوای چي خپله لکۍ خلاصه کړي. په چیغو او نارو یې شروع و کړه.

ترکاڼ چي د بیزو چیغي واورېدلې له خوبه را ویښ سو او د کار ځای ته راغی ، ګوري چي د بیزو لکۍ د لرګي په غوله کي بنده پاته سوې ده ، نو بیزو یې و نیوله او په کپس کي یې واچوله.

ښه یې ویلي دي چي ترکاڼي د بیزو کار نه دئ.

# د زردالوو ټوکرۍ

یو لوی نسی سړی د خپل یوه دوست له خوا د واده مېلمستیا ته چي په یوه لیري کلي کي وو میلمه سو. کله چي یې د مېلمستیا کارت ور ته ور کړ نو دی هم د مېلمستیا په ورځ د هغه کلي پر

لور رهي سو. پر لاري چي روان وو د لاري تر څنګ يې د زردالوو يوه ټوکرۍ پيدا کړه.

لومړی يې فکر و کړ چي زردالو و خوري. بيا يې له ځانه سره فکر وکړ چي که اوس دغه زردالو و خوري نو اشتها به يې و سوځي او بيا به د واده د هغو ښو ښو خوراکو له خوړلو څخه بې برخي پاته سي. نو هغه وو چي زردالو يې په ختو کي و غورځول او خپل سفر ته يې دوام ورکړ. هغه کلي ته تر رسېدو له مخه يو لوی توپاني سيند کلي ته د تېرېدو لاره بنده کړې وه. کښتۍ ته هم خلک په نوبت کي ولاړ ول. دی چي څه موده هلته و درېدی نوبت ور ونه رسېدی. د کلي له خوا څخه خلک راتله چي د واده ډوډۍ يې خوړلې وه نو دی ډېر خواشينی سو او نا چاره بيرته د کور پر لور را رهي سو.

په لاره کي يې فکر و کړ چي بيرته هغو زردالوو ته ځان ور و رسوي او و يې خوري. کله چي زردالوو ته را و رسېد، زردالو يې يو يو له ختو څخه را ايستل او ببله دې چي پرې يې مينځي په ډېره ښه اشتها يې خوړل.

# بیزو ګاني او خولۍ خرڅوونکی

یوه ورځ یوه خولۍ خرڅوونکی د خپلو خولیو د خرڅولو له پاره د کوره را و ووت. پسله ډیرو ګرځېدو ستړی او ستومانه سو او راغی چي کوم چیري راحت و کړي. راغی تر یوې وني لاندي پرېووت او خولۍ یې له څنګ سره کښېښودلې. پورته په ونه کي بیزګاني ناستي وې. بیزوګانو چي و لیده چي خولۍ خرڅوونکی بیده سو، نو یوه یوه را کښته سولې او یوه یوه خولۍ یې واخیستله.

کله چي خولۍ خرڅوونکی را کښېنوست و یې لیده چي خولۍ یې نه سته نو سمدستي یې له خپله سره خولۍ و کښه او و یې غورځوله.

بیزوګانو چي دا حال و لید هغو هم هري یوې له خپله سره خولۍ و کښې او و یې غورځولې ځکه چي د بیزوګانو تقلید خوښ دئ.

خولۍ خرڅونکي هم خپلي خولۍ را ټولي کړلې.

# چرګ او شاهين

د دوو چرګانو تر منځ نزاع (بې اتفاقي) پېښه سوه او په پای کي يې په جګړه پيل وکړ.

تر څه جنګ وروسته قوي چرګ ضعيف او کمزوری چرګ ډېر ژوبل کړ. پر مخ او ځان باندي يې ويني ور و بهولې او بڼکي يې ور باد باد کړلې. کمزوری چرګ و تښتېد، د کور يوه ګوښه ځای ته ولاړ او هلته پرېووت او پر خپله کمزوري او حال يې ژړل. زور ور چرګ د کمزوري چرګ له زخمي کېدو او تښتېدو نه وروسته ډېر خوشاله وو.

زورور چرګ د کور لوړ بام ته وخوت او په ډېر کبر او غرور يې قدمونه اخيستل. يوه خوا بله خوا يې کتل، وزرونه يې ښورول، اذانونه يې کول او په خپل شجاعت او قوت يې افتخار کاوه، په دې وخت کي چي زورور چرګ په فخر او کبر کي ډوب وو، ناڅاپه يو شاهين پر راغی او حمله يې پر و کړه. په منګولو کي يې واخيست او هوا ته يې پورته کړ.

زور ور چرګ په خپل عجز او نا تواني پوه سو او و يې ويل: ”چي د هر قوي له پاسه بل قوي سته. نو هيڅ څوک بايد مغرور نه سي او نه بايد پخپل زور او قدرت افتخار و کړي“.

# آس او خر

يو سړی د سفر په نيت له کوره و ووت. له ځان سره يې خپل خر او آس هم و ايستل. درووند پېټی يې پر خره او سپک پېټی يې پر آس واچاوه. خر چي څه لار و وهله ډېر ستړی سو او له آس څخه يې داسي غوښتنه وکړه:

”ملګريه! زه ډېر ستړی سوی يم، پېټی مي درووند دئ، نور د دومره ډېر بار وړلو توان په ځان کي نه وينم، نو هيله کوم چي د ملګرتيا په لحاظ له ما سره مرسته و کړې او لږ پېټی را څخه واخلې“.

آس د خپل ملګري خبره و نه منله. هغه يې تر درانه پيټي لاندي پرېښود. خر لا څو قدمه نه وه اخيستي چي پښې يې سره تاو سولې او پر مځکه و لوېد.

سړي د خره ټول پښتې را واخيست او پر آس يې واچاوه.

که چيري آس د خپل ملګري په خبره د لږ پښتي په وړلو راضي سوی وای، نو له يوې خوا به يې ملګری خوشاله وای او له بلي خوا به د دومره زيات پيتي په وړلو نه وای مجبور سوی.